# ارمان ستا پر حق شهید شو!



Ketabton.com

لیکوال: ح حقوېش،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالـۍ!

د لـراوبـر يو افغـان مېـــړنيو مبارزينو تـه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتون ژغورنه غورځنګ!

پښتانه هغه وخت د ناخوالو ښکار شول کله چي انګليستان په ايسا که د جنګ لپاره پښه کېښودله، او د خپلو ګټو لپاره يې جنګ ته ادامه ورکړه څو دلته خپله اوږده واکمني وکړي .هغه وو چي جنګ له هندوستانه افغانستان ته را اوږد شو. پښتنو د اسلام د بقا لپاره، د خپلي سيمي او خپلواکۍ لپاره جنګ ته ملا ورسره وتړله، که څه هم انګليستان د وخت په ښه وسله سنبال وو، خو پښتنو او نورو قومونو په هغه څه جنګ ورسره پيل کړ، کوم څه چي يې په کور کي لرل. خو په دې ماته ګوډه وسله يې دوه ځلي انګليستان ته ماتې ورکړه او له خپـــلي خاوري به يې وشړل. خو بلاخر انګليستان خپلو ناوړو ګټو ته لاس رسی ومند، او د افغانانو سيمه يې په دوه برخي وويشله، په منځکې انګليس ډيورنډ په آس سپور تېر شو چي دا سيمه تر اوسه د ډيورنډ کرښي په نوم ياديږي. د افغانانو هغه سيمه چي د ډيورنډ په مټ په انګليسي هندي کي پاتي شوله، هغه تر يو څه وخته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګلیستان په واک کي پاتي شوه چي باچاخان بابا او نورو مبارزینو ورسره د خپلواکۍ لپاره مبارزه کوله. خو بدبختانه چي انګلیستان په انګلیسي هند کي د اسلام په نوم خلک راوپارول او د خپلو ګټو لپاره یې وکارول. هغوی ته یې دا موضوع په لاس ورکړه چي مسلمانان دي ځانته هېواد جوړ کړي. که څه هم ډېرو علماوو او مشرانو له دې سره اختلاف درلود خو د انګلیس په مټ راپارول شویو هڅه کوله چي مسلمانان ځانته او هنـــــد ځانته برخه کړي یا هــغه د دوی په ډول (دوو قومي نظرې) مانا یوه نظریه اسلام او بله نظریه هندو. هغه وو چي انګلیستان د خپـــــلو ګټو لـــپاره انګلیسي هند په 14 او 15 اګست 1947ز کال کي په دوو برخو ووېشه، یو برخه یې پاکستان شو او بله برخه یې هندوستان شو. خو په پاکستان کي هغه پښتانه هم راغلل کوم چي د لوی افغانستان برخه دي. خو هغوی له هغې ورځې د خپلواکۍ لپاره مبارزه پیل کړه، او انګلیس جوړ کړی پنجابی له هم هغه ورځې ورته خنډونه جوړ وي او په ډېره بې رحمي سره یې په شهادت رسولي. لکه په 12 اګست 1948ز کال کي چي یې په بابړه کي سلګونه کسان شهیــــدان کړل او ژوبل کړل، او مشران یې ورته بنـــــدیان کړل. خو له دې هر څه سره سره هم عقیدوي مسلمانان په دې خوښ وو چي موږ به نو اوس ځانته یو اسلامي هېواد ولرو او د اسلام لپاره به داسي داسي وکړو. خو په لومړیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي يې د پښتنو سره يوځای مسلمانانو ته ناخوالي وزيږولې چي په هند کي يې د هندو قومي نظرې لپاره په اکليت کي پرېښودل چي اوس يې شمېره څه باندي 22ميليونه کسانو ته رسيږي، چي ښه علمان او ديني مدرسې لرې. خو له هم هغې ورځې پاکستان چيغي بغاري وهي چي هند له مسلمانانو سره بدچلند کوي، خو هغه څه چي دی يې له مسلمانو پښتنو سره کوي په هغه هر څه پرده اچوي او سترګي باندي پټوي، او بل دا خو قصداً د دوو قومي نظريو والا ورسره وکړل، چي هغه يې د انګليس د ګټو لپاره هلتـــه په اکليت کي پرېښودل او ځان يې ورڅخه راجلا کړ. دا هر څه دوی د خپلو عقيديانو لپاره کوي ځو هغه د اسلام په نوم جذباتي وساتي او دوی دلته د پنجاب د بقاه لپاره په سړه سينه پښتانه او بلوڅ ورونه تر تېغ تېر کړي.

که څه هم انګليستان په پاکستان کي تر 1956ز کال پوري په بشپړ ډول واکمن وو او په خپلو ګوډاګيانو يې پښتانه شهيدان کول، خو اوسني پنجابيان هم هغه د 14 اګست د جلاوالي ورځ ته د خپلواکۍ ورځ وايي. خو کله چي انګليسانو په 1956ز کال کي خپلي څوکۍ خپلو زيږنده کسانو ته پرېښودلې او دوی ولاړل، هغوی هم د اسلام په ځای د پنجاب د بقا لپاره په اسلامي نظريه کي دننه جنګ پيل کړ، چي په 1971ز کال کي يې لويه برخه بنګاليان له لاسه ورکړل، خو بيا هم لاس تر زنې نه کښېنستل. په پښتنو او بلوڅانو پسې راوخستله .چي په ډول ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسیسې یې ورته جوړي کړي، پښتانه او بلوڅ مبارزین یې له خنډونو سره مخ کړل.

هغه وو چې په 1978ز کال کې د انګلیس پاتي شونو ته د اسلام په نوم یوه بله نوې پروژه په لاس ورغله چې امریکا ته په قرارداد کار وکړي، څو په دې قرارداد کې دلته شته پښتانه او بلوڅ مبارزین چې خپلواکې غواړي وځپي.

دا هغه وخت وو چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد په مقابل کې امریکایانو او پنجابیانو جهادي قومندانان د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره مستقیم او غیر مستقیم وکارول، چې په هغه وخت کې به هم باچاخان بابا پښتنو ته نارې وهلې چې روان جنـــــګ د شوروي او امریکا جنګ دې، قرباني یې افغانان دي، ده د جهاد دغه بهیر ته هم د شک په سترګه کتل خو هغو پښتنو چې په جهاد کې یې برخه لرله او ملاتړ یې کاوو، د باچاخان بابا ږغ یې هیڅ نه اورېده، او د پردیو روزل شویو جاسوسانو تر شا به روان وو، او د هغوی په قومانده به یې پردی جنـــــګ ګاټه او د ویتنام وار یې په افغانستان کې ورته اخیست، خپله یې ګټه ونه کړه خو د خپلو وینو ثمره هم بل چا ترې یووړه او تر اوسه پورې ددغه جنګ ګټه هم بل ته ځي، او په څنګ کې د لراوبر هغو مبارزینو ته هم خنډونه جوړ کړل کومو چې له لومړۍ ورځې د سره انګلیس ګرېوان ته لاس اچولی وو، او اوس یې د هغوۍ پاتي شونو سره د خپلواکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبارزه روانه وه، په هغه کي د نورمحـــمد ترکي، حافظ الله امين، او ډاکټر نجيب الله تر څنګ په دغو مبارزينو هم ډول ،فتواوي صادري شوې، او دا يې دالته په پښتونخوا کافران کړل او د دې تر څنګ پنجاب هم خنډونه ورته جوړ کړل چي د دوی مبارزه يې هم له ډېرو ناخوالو سره مخ کړل. له هم هغې ورځې چي اوس يې څلور لسيزه پوره کيږي، د پنجاب ادارې په لراوبر پښتون سيمو کي پښتون وژنه روانه کړې ده، خو په وړاندي يې هيچا ږغ پورته نه کړ چي د پنجاب د دسيسو پښتون قوم خبر او را بيدار کړي، او خپل دوښمن ورته په ګوته کړي چي زموږ اصلي دوښمن پنجاب دې، که په چا کي به د ږغ پورته کولو توان وو، نو پنجاب به په يوه او بل نوم ووژل.

خو هـــغه وخت د پښتنو ســـړه وينه په ګرمېدا شوه کله چي د 2018ز کال د جنوري مياشتي په ديارلسمه نېټه د کراچۍ د ملېر حوزې د پوليسو د مشر په مشري پوليسو د وزيرستان يو ځوان نقيب الله مسيد شهيد کړ، او تور يې ولګاوه چي نقيب مسيد له ترهګرو سره اړيکي درلودې .وروسته مالومه شوه چي نقيب مسيد بېګناه وو او خون يې د کراچۍ د پوليسو په غاړه دې.

له هغه وروسته د پښتونخوا په ببلابېلو سيمو کي د پاکستان په ضد لاريونونه وشول، چي وروسته د ځوانانو يوې قافلې د جنوري پر 25مه نېټه د پښتونخوا له ډېره اسماعيل خان څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر راپورته کړ، تر بنو، کوهاټ، پېښور، چارسدې او مردان تېره شوه او په اسلاماباد ورکښته شول هلته يې پرلت ووهه .له هري سيمي چي د پښتنو دغه قافله تېرېده، لا زيات کسان ورسره يو ځای کېدل او چي تر اسلاماباد پوري رسېده، شمېره يې زرګونو ته ورسېدله. او مشري يې منظور پښتون، علي وزير او محسن داوړ په غاړه واخيسته، چي وروسته دې پرلت ته له کوټې او ژوب څخه د ځوانانو قافلې ورغلې، له دير، سوات او د پښتـــونخوا له ځينو نورو برخو د ځوانانو ډلې ور رواني شوې، د پېښور پوهنتون محصلان ورسره يو ځای شول، د پښتونخوا او بلوچستان نورو خورو ورو سيمو ځوانان او پېغلې هم په پرلت کي د ګډون لپاره ورغلې، د دې تر څنګ يې په افغانستان کي په ملاتړ غونډې وشوې، او افغان اولسمشر يې هم ملاتړ وکړ. او د نړۍ په نورو ډيرو هېوادونو کي يې هم پښتنو د ملاتړ غونډې جوړې کړې.

خو بلاخر په اسلام اباد کي د زرګونو پښتنو 11ورځنی پرلت د فبروري په 10مه نېټه د دوی د غوښتنو تر منلو کېدو وروسته پای ته ورسېد. د پرلت مشر منظور احمد پشتون په دغه ورځ ماځګر ناوخته غونډې ته په خپله وينا کي وويل: چي دولت يې غوښتني منلې دي، او پرلت نور پای ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زیاته کړه، که چېرې دولت په خپلو ژمنو په یوه میاشت کې عمل ونه کړ، نو دوی به یو ځل بیا اسلام اباد ته مخه کوي.

پشتون وویل چې د دوی پنځه غوښتنې وې، د نقیب الله د قاتلانو نیول او اعـــدامول، د پښتنو د وژلو او ترور کولو د پېښو د څېړلو لپاره د یوه کمېسیون جوړول، د نادرکه شویو پښتنو پیدا کول، په قبایلي سیمو او په ځانګړې توګه په وزیرستان کې د ځای پرځای شویو ماینونو پاکول او د هغوی له قربانیانو سره مرستې کول او پر پښتنو د ظلمونو بندول.

نوموړي زیاته کړه چې دولت یې ټولې غوښتنې منلې دي او د خپلو ژمنو په اړه یې یوه رسمي اعلامیه هم ورکړې چې ده یې یوه کاپي ګډونوالو ته ورښکاره کړه.

په هغه بیان کې چې د پاکستان د لومړي وزیر له دفتره خپور شو، ژمنه شوې وه چې د نقیب الله مسید په قتل تورن پولیس به ونیول شي او عدالت ته به وړاندې شي، په جنوبي وزیرستان کې به د ماینونو د پاکولو پروسه چټکه او د ماین د قربانیانو کورنیو ته به تاوان ورکړل شي او په جنوبي وزیرستان کې د نقیب الله مسید په کلي مکین کې به د هغه په نوم د متوسطې کچې یوه ښوونځي جوړ شي.

اعلامیه که څه هم د پاکستان د لومړي وزیر شاهد خاقان عباسي او د پښتنو د لاریون د استازو ترمنځ د خبرو په پایله کې لیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي، خو عباسي نه وه لاسلیک کړي، بلکې د هغه د سلاکار امیر مقام تر لاسلیک لاندې خپره شوه.

د پرلت له پای ته رسېدلو وروسته د پښتنو ځوانانو د مبارزې لړۍ همداسې پسې روانه شوه، او د بلوچستان پښتنو ته راورسېده، چې په لومړي ځل یې په ژوب کې په 9 مارچ ښه غټه غونډه تر ســــره کړه، چې ډېر شمېر خلکو پکښې ګډون وکړ، د هغه نه وروسته په 10م مارچ په سیف الله کلا کې غټه غونډه وشوه چې ډېر شمېر ګډونوالو پکښې ګډون وکړ، چې د دواړو غونډو وروسته پولیسو د غونډې په تنظمونکو او مشرانو باندې دوسیې جوړې کړې، چې په دولت باندې یې غیرقانوني نیوکې کړې. خو دا هر څه دروغ وو، چې د پاکستان دولت د پښتنو لپاره کول، ځکه هغه هیڅ وخت پښتنو ته خپل حق په سمه نه ورکوي په ډول ډول دسیسو یې مخه نسي، نو دوی د پخوا په څېر دا ځل بیا غوښتل چې په دې دوسیو اولسي وګړي ودار کړي، څو هغه د کوټې په لویه غونډه کې ګډون ونکړي، کومه چې په 11م مارچ تر سره کېدله، خو پښتانه دا وخت تر خپل سر تېر دي په دې وړو وړو کیسو یې مخه نه راګرځي، نو هغه وو چې د کوټې په غونډه کې هر پښتون زیار ایست چې ګډون وکړي، او خپله څېبڅلې مینه ټوله نړۍ ته وښیي چې له خپل قوم سره څومره مینه لري، هغه وو چې زموږ مبارزو ورونو بلوڅانو هم ګډون پکښې وکړ او له موږ سره اوږه په اوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودرېدل او زمونږ د خپلواکۍ ږغ يې راسره بدرګه کړ. خو له دې هر څه سره سره د پنجاب پوځ د پښتنو هغه غوښتني په خپل وخت نه کړې تر سره د کومو چي يې اعلاميه خپـــــره کړې وه، په ځواب کي يې منظور پښتون رسنيو ته وويل که مو غوښتني په خپل وخت تر سره نه شوې، نو يوځل به بيا په اسلام اباد کي پرلت ووهي، د دې تر څنګ پښتنو په پېښور کي هم د يو لوي غونډې تابيا نيوله چي پرون په 8 اپرېل لسګونه زرو کسانو پکښې ګډون وکړ، خو په زرګونو نور خلک د پوځ لخوا پرې نښودل شول چي غونډې ته لاړ شي. له وزيرستان څخه د موټرو کاروان مخه د پنجاب د پوځ لخوا ونيول شوه. د 200 غونډې برخوالو وويل، د دوی ګناه څه ده چپ له يوې خوا خلک ورته نه پرېښودل کيږي، له بلي خوا يې رسنۍ په تېره بيا تلويزيونونه منع کړي چي د غونډې بهير ژوندی خپـــور نه کړي. دوی دغه راز وويل چي انټــــــرنيټ هم بيا بيا پرې کيږي. له دې ســــره بيا هم پنجاب خپلو ګټو ته ونه رسېد، پښتنو خپله غونډه په ډېر جوش او جذبه تر سره کړه، چي دلته يې د ويناوالو يو څه خبري راخلم:

پښتون د لسګونو زرو کسانو د شعارونو او هرکلي په منځ کي وويل: "مونږ يوازې د پښتنو د ځپل کېدو مخالف يوو." هغه د پنجابيانو تورونو ته په اشارې چي د ده تر مشرۍ لاندي د غورځنګ غړي د ګاونډيو هيوادونو د استخباراتي ادارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایجنټان دي، وویل: "موږ د خپل پښتون ملت ایجنټان یوو". په پنجابي پوځ یې ږغ وکړ "زموږ له بې درکه شویو سره مو څه وکړل. هغه میندي او مشران چي عزیزان یې بې درکه کړای شوي، باید په زور پټه خوله کولو ته اړ نه ایستل شي." پښتون همداراز وویل:"په کراچۍ کي په دې خاطر له پښتنو کورنیو پیسې اخیستل کیږي چي په بدل کي یې د هغوی د عزیزانو مړي وروسپاري. حتي چنګېز خان داسي نه دي کړي چي د یو چا له وژلو وروسته یې د هغه د مړي د ورکولو په وړاندي پیسې اخیستې وي." ده دا هم وویل چي د کراچۍ د پولیسو د وژونکي مشر راو انور له نیول کېدو وروسته اوس د پاکستاني طالبانو د پخواني ویاند احسان الله احسان وار دی چي عدالت ته راکښ کـــړل شي، ورپســـې د مشرف وار دی چي بایـــد محاکمه شي. همداسي د پښتون ژغورني غورځنګ یوې مشري ثنا اعجاز په تورخم، غلام خان او چمن کي د ملي لوژستیک ځانګو د بندېدو او په سوات او مالاکنډ کي د خلکو د جایدادونو د بېرته ورسپارل کېدو غوښتنه وکړه. دې همداراز وویل چي د قبایلي سیمو پښتنو ته باید هماغسي حقونه ورکړل شي چې د لاهور او اسلام اباد اوسېدونکي یې لري. دې او ګڼو نورو ویناوالو د چرګي بریدونو د پای ته رسېدو غوښتنه وکړه. ګڼو کسانو د خپلو ورکو عزیزانو عکسونه په لاسونو کي نیولي وو، او ځینو پر عکسونو د بې درکه کېدو نېټه او ځای هم لیکلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بلوچستان ايالت يوې پښتني فعالي وړانګي لوښۍ، چي د پښتون ژغورني غورځنګ ډېره تکړه غړې ده، په خپلو څرګندونو کي وويل:"اويا کاله يې پر ما ظلـــــم کړی دی او زه يــــې وژلی يم، اوس ماته په چيک پوستونو شربت راکوي او پر خپلو ظلمونو پرده اچوي .موږ ته د ژوند حق راکړه موږ شربتونه نه غواړو".

او محسن دوړ هم په خپله کي وويل" :پر موږ تور پوري کيږي چي د هند د (را )او د افغانستان د ملي امنيت ايجنټان يو، جرائت دي وکړي يو کميشن دي جوړ کړي او پلټنه دي وکړي چي له موږ سره د چا مرسته ده، خو بيا به دا کميشن هم جوړوي او مالــــــوموي به چي د پېښور پوځي ښوونځي (پبلک آرمي سکول) ماشومان چا ووژل".

همداسي دې ستري غونډي ته چي د ګډونوالو ساری يې تر دې وړاندې په پېښور کې نه وو ليدل شوی نورو ويناوالو هم خبري وکړي، او د خپل حق غوښتنه يې وکړه، نور نو پښتانه په خپلو سيمو کي د تپل شوي جنګ له منځه وړل غواړي، پښتانه د ښه ژوند حق غواړي، پوهه او سوله غواړي نور يې زغم پای ته رسېدلی او پښتانه به د هر څه پوښتنه کوي، د پښتون ژغورني غورځنګ مخکښ غړي بايد اوس په اولس کي د اتفاق او اتحاد لپاره کار وکړي، د دغه تپل شوي جنګ اصلي لوبغاړي ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپېژني، ګټه، تاوان، دوست دوښمن باید هر څه ورته په ګوته کړي، د اولس په منځ کې باید فکري او شعوري کار وکړي، او سیاسي شعور یې لوړ کړي او د اولس دربدلي ماغزه او فکرونه په حرکت راولي، څو ټول پښتون اولس په یوه صف کې ودروي او پنجاب په دې پوهي شي چې پښتانه کله هم د ظالم په وړاندې راولاړ شوي، نو خامخا یې د ظالم ګرېوان ته لاس اچولی او خپل غچ یې څو چنده ورنه اخستی.

او د پنجاب پوځ، استخبارات او رسنۍ د پښتنو له داسي غونډو څخه ډېر په ډار کې دي، او ډار یې ګڼ لاملونه لري. په ټول تاریخ کې دا لومړی ځل دې چې د ډېورنډ کرښي ورپوري غاړه، پښتانه ځوانان د پنجاب څخه د خپل حق د تر لاسه کولو لپاره پوځ او استخباراتو ته خط کشوي او پرلت ورته وهي.

د دې غونډې مشري د تېرو سیاسي غونډو په څېر، پخواني پښتانه سیاسیون نه کوي، بلکې واک یې له ځوانو پښتنو سیاسي ځوانانو سره دې، پر هغوی د پنجاب د پوځ او استخباراتو تاثرات چنداني اثر نه کوي.

همداسي غونډې ورځ تر بلي زیاتیږي او د ګډونکوونکو شمېره هم ورځ تر بلي زیاتیـــږي او د خپلو غوښتنو جدي غوښتنه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د غونـــــډي ګډونوال پښتانه دا ځلي داسي شعــارونه ورکوي، چي له ورايه ورڅخه د پنجاب له پوځ، استخباراتو او رسنيو څخه کرکه پکښې ليدل کيږي، که دغه شعارونه او چيغي همداسي بدرګه شي، نو ښکاره ده چي د پنجاب دولت ته به بدي پايلي ولري .او پنجاب به آړ وي چي يا به پښتنو ته په هر څه کي سمه نيمه برخه ورکوي، يا به ماتيږي او پښتانه به ځانته خپلواکي اخلي.

او که د پنجاب دولت چي اوس يې د پښتنو، بلوڅو، سندهيانو او د نورو په سيمو د انګليس په مټ لاس راګرځولی دې ، د غونډې د ګډونوالو غوښتنې ونه منلې، نو دغسي غونـــډي به دوام ولري، او پښتانه به خپل حق په هر ډول چي وي دا ځلي تر لاسه کوي او تور پنجاب ته به په مخ څاپيړه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارمان ستا پر حق شهید شو!

د پښتنو د پرمختګ او د هغوی د حق غوښتلو لپاره ډیرو مبارزینو قربانی ورکړې دي، او هر مبارز شاته ډیر داسي څه پرېښودلي دي که اوس هم وربانديې تګ وشي نو ممکنه ده چي پښتانه هم د عصري نړۍ سره ورته پرمختګ وکړي او هم له هر زبر او جابر ځواک څخه خپل حق ترلاسه کړي. پښتنو په اسیا کي له پيړيو پيړيو واکمني کړې ده او هر جابر ځواک يې په ګونډو کړی او له خپلې سپېڅلې خاوري يې شړلی دی .که څه هم دلته پښه ابنودل هر زبر ځواک ته اسانه او د پښتانه په اوږه ایښی ټوپک لکه اوسنۍ امریکا چي دلته راغلې په همدې ډول راغلي، خو وروسته د پښتنو له داسي غبرګون سره مخ کيږي چي خپل ډير څه له لاسه پکښې ورکوي. لکه د ملګرو ملــــتونو ځواکونه چي د امنیت شورا لــــخوا ځای پرځای شوي، امنیت شورا یوه داسې اداره ده چي هلته يې پنځه دوديز اټومي طاقــتونه (فرانسه، چین، روسیه، بریتانیا او متحده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایالات) یو ویټو لري. د دغو له جملې څخه په روانو دوو پیړیو کي دریېو هېوادونو په افغانستان یرغل وروړی دې. تر دې له مخه افغانانو د تاریخ په اوږدو کي له مقدوني سکندر، ایراني صفویانو، مغولو او نورو سره د هېواد د خپلواکۍ لپاره جګړې کړې دي. په دې هېوادونو کي لومړی هېواد انګلیستان وو چې له افغانانو سره یې ډغرې وهلې دي. چې له بدمرغي پالیسۍ څخه یې پښتانه تر اوسه کړیږي. لومړی انګلستان د افغانانو ګډ لوی احمدشاهي هېواد افغانستان په دوو برخو وویښه، په منځ کي یې کرښه ور کښ کړه نیم یې له ځان سره پرېښودل چې هغه وخت دوی بریټش انډیا وو، وروسته یې بریټش انډیا د مسلمان او هندو په دوو نومونو سره جلا کړل، چې په 1947ز کال کي یې د افغانستان پاتې برخه چې پښتانه او بلوڅ وربانديږ استوګن وو خپل لاسپوسي پنجاب ته په اجاره ورکړل، ځکه پنجاب انګلیسانو د خپل ځای ناستي لپاره د هندوستانه راجلا کړ او د ګاونډیو هېـــــوادونو ځیني سیمي یې هم ورپکښې ګډې کړلې.

له دې مخکي که لوی احمدشاهي هېواد د انګلیسانو سره لاس او ګرېوان وو، کله چې د مذهب په نوم د انګلیسانو ځای ناستی پنجاب رامنځته شو، نو خواره واره پښتانه یوزل بیا د ستونزو او ناخوالو سره لاس او ګرېوان شول. دې هېواد چې اداره کېدل یې د انګلیسانو په لاس کي وو د سیمي د لاسپوسو په مټ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړيو کي له پښتنو سره داسي ظلمونه وکړل چي نړۍ ګوته په غاښ ورته پاتې شوه. چي د بابړې مثال يې يادولی شو، له هغه وروسته يې په وارو وارو په پښتنو ظلمونه کړي دي، خو کله چي زموږ په لوی کور کي په 1978ز کال کي نورمحمد ترکي واک تر لاس کړ او ترکی د کمونزم پلوي وو چي له دې نظريې سره امريکا او انګلستان دواړو اختلافات لرل، هغه وو چي بيا يې ددې پنجاب په مټ په افغانستان کي لاسوهنه وکړه او يو اوږد جنګ يې د اسلام په نوم پکښې پيل کړ، چي د سر سر کسان يې تر نن ورځ پوري وژل کيږي. همدا ډول پنجاب د هغوی له ملاتړ څخه ګټه پورته کړه د پښتنو او بلوڅو مبارزينو د له منځه وړلو پسې يې راواخيست، د هغوی د پرمختګ مخه يې ونيوله، د اسلام په نوم د پنجاب دفاع کوونکو که څه هم افغانستان ته د اسلام د خوندي کولو لپاره خلک ليږل او هلته ټوله پراته پښتانه افغانان يې کفار بلل، دلته يې هم د پښتنو قامپرستان د کفر په نوم تورن کړل. او تر څنګ به يې يو يو د کار سړی هم ورنه ويښته، بيا به يې خپلو لاسپوسو ته دا خبره هم په لاس ورکړه چي اوس نور خلک هم ددوی په وړاندي راپاسوئ، هغوی به ددې شهيدانو په ډول ډول نومونو توعين کاوه او نور د قوم خلک به يې ددوی په ضد راپاسول، دوی او مبارزه به يې ورته په بدو او سپکو نومونو يادوله، لکه څنګه چي اوس په پښتون ژغورني غورځنګ پسې خبري کوي. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو قامپرستانو تر نن ورځې پورې خپل همت نه دې بایللی په مېړانه او په جرات یې د خپل قوم لپاره مبارزه کړې ده، او خپل ږغ یې تر اوسنیو ځوانانو رارسولی دی، دې ځوانانو ته که څه هم ډېرې ناخوالې په مخکې پرتې دي او د پنجاب ادارو ددوی په منځکې خپل لاسپوسي ځای په ځای کړي دي خو دوی بیا هم د پرمختللي عصر سره ورته مبارزه کوي او په ټولنیزو رسنیو خپل ږغ بدرګه کوي.

دا مهال د پښتنو د نورو تحریکونو ترڅنګ نوی راټوکېدلی تحریک "د پښتون ژغورني غورځنګ" په ډېرې چټکۍ سره خپل ږغ بدرګه کوي، او د خپلو تېرو مشرانو خوشال خان خټک، شېرشاه سوري، مېرواېس نیکه، احمدشاه بابا، باچاخان امان الله خان، خان شهید په لاره تګ کوي. خو دې تحریک ته هم د پنجاب ادارې ستونزې جوړوي، مخه نه ورکوي چې د خپل حق غوښتنه وکړي. ددې تحریک د مخنیوي لپاره که څه هم د پنجاب ادارې له هرې لارې کار اخلي، خو ترڅنګ یې په خپله پښتنو کې هم خلک پیدا کړي دي چې په تحریک پسې بدرد وایي، لکه مخکني مشران چې ورسره مخ وو همداسې دا تحریک هم. ددې تحریک د مخنیوي لپاره پنجاب ډېر پښتانه ځوانان ووهل بنـــــد ته یې واچول د طالب په نوم یې شهیدان کړل، خو ددې تر څنګ به یې لاسپوسي لا نور بدرد هم پسې وایي او نور پښتانه هم د ځان خواته کښ کوي. په هغو کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر کسان له خپل حقه ناخبره خلک په بدو ردو سر کيږي. او ډېر خلک خاموشه پاتي کيـــږي چي دا هم د خپل قوم سره جفاه ده.

زموږ له اوسنيو مبارزينو يې د 2019ز کال د فبروري په 2مه نېټه مابنـــــام مهال د پښتون ژغورني غورځنـــــګ مخکښ غړی "**ارمان لوڼی**" د پنجاب د ادارو په خوله يوه پښتانه پوليس افسر هغه د لوی بازار په منځکي د سلګونو پښتنو په منځکي شهيد کړ، دالته د ګوتو په شمېر کسان وو چي ارمان لوڼی يې ژغوره خو په هغوی باندې هم ماشه کښ کړل شوه چي شور ونخوری، بدبختانه چي ارمان يې شهيد کړ. ارمان د همدې پښتنو لپاره چيغي وهلې کومو چي يې مرګ ته په رڼو سترګو کتل، ارمان د همدې پښتنو پوليسو لپاره حق غوښته کوم چي د پنجاب اداري د خپلو ګټو لپاره وژل، او هماغه پوليسو دا ارمان شهيد کړ. خو ددې مبارز شهيد په شهادت ټوله خاموشه شول هيچا په هم هغـــــه شپه بږغ پورته نه کړ، پرته له يوڅوتنو ،ځوانانو. بايد په هغه ورځ دا ښار تړل شوی وای تجارانو بزګرانو، موټرچلونکو، مځکوالو، پوليسو او نورو ټولو کاربنديز کړی وای. او له شته حکومته يې غوښتي وای چي د ارمان قاتل ته سزا ورکړل شي. خو پوليسو له هماغه قاتله ساتنه ،کوله او د ارمان شهيد شاهدانو ته يې اختيارونه ورکول تجارانو په دې سبا ګهيځ ټولو خپلو کاروبارو ته ملاتړلې وه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندا خندا يې تلې يو او بل سر کښته پورته کاوه، په دې يې سر نه خوږاوه چې سبا به د نورو پښتنو په څېر زما ورور يا زوی وژل کيږي بيا به څه کومه، ځينو به لا د خپل بادار په خوله ارمان شهيد غدار يادوه. په هغه ورځ چې مي د خلکو داسي حالت وليد ماته د ازادي غوښتونکي ارنسټو چيګوارا او د مصر د محمدکريم د .ژوند وروستني حالت رایاد شول

کله چې ارنسټو چيګوارا په خپل پټنځای کي د يو شپون لخوا په حکومت ونيول شو، نو د شپون څخه يې پوښتنه وکړه چي چيګوارا خو ستاسو د ازادۍ لپاره مبارزه کوله، ولي دي حکومت ته په لاس ورکړو؟ شپون وويل: د چګوارا جنګونو زما د مېږو رمه ډاروله.

همدا ډول!

محمدکريم د مصر ازادۍ غوښتونکی وو کله چي يې د فرانسې د پوځونو په مقابل کي ماتې وخوړه نو فرانسوي ځواکونو هغه ونيوه. د وخت واکمن نيپولين ته يې بوتو، نيپولين ورباندې د اعدام حکم صادر کړ او د اعدام تر څنګ يې ورته وويل: تا د هېواد د ازادۍ لپاره مبارزه کړې ده زه د ازادۍ مبارزين نه وژنم، زه د خپلو وژل شويو پوځيانو تاوان درنه غواړم نو موږ ته لس زره د سرو زرو سيکې راوړه چي د اعدام سزا درته ختمه کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدکریم ورته وویل اوس دا سیکې نه لرم وخت راکړه چي له خپلو تجارانو يې را پيدا کړم .محمدکريم لاس تړلی د مصر په قاهره کي ځو ورځي وګرځيد، خو هيڅ تاجر ورته دا سیکې ورنه کړې .او ځينو تجارانو به لا دا هم ورته ويل: لعنت په محمدکريم زمونږ تجارت او کار يې راخراب کړ.

محـــمد کريم بېـــرته نبپولين ته راوستل شو، نبپولين ورته وويل: زه نو اوس بله لاره نه لرم بې له اعدامه، او ددې لپاره دې نه اعداموم چي زمونږ پوځيان دې وژلي دي، ددې لپاره دې اعداموم چي د يو پيسه دوست قوم لپاره دې مبارزه کوله.

نو مالومه خبره ده که هر څوک ددې پنجابي حکمران تر حکم لاندې دا فکر وکړي چي زما سر ته خير ده، خپل کار قطار مي سم ده، اولادونو ته روپۍ ګټم هغه هم ښه خوشحاله دي تعليم کوي په خبټه ماړه دي. زه هم ګهيځ کار ته راوځم ماښام د خپلو اولادونو څنګ ته کورته ځمه. يا که څوک ددې حکمران تر حکم لاندې نوکري کوي، نو ښکاره د چي د لورالائي د پوليسو په څېر به وژل کيږ.ي بيا به عام خلک راپورته کيږ.ي هغوی ته به حق غواړي او په هغه سربېره به بيا همدې پوليسو ته امر کيږ.ي چي ددوی لپاره حق غواړي هغه به وژني او د حق چيغه به خاموشه کوي، کله چي د حق چيغه خاموشه شي، ته به يو غلام پاتې شي بيا چي دي بادار هر څه وغواړي ته به يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټيټو سترګو حکم ترسره کوې هغه وخت به وجدان هرڅه درته ووايي خو ته به هيڅ هم نشې کولی. بلخوا که موږ وګورو زموږ په لراوبر وطن کې له څلورو لسيزو راپدېخوا په ميليونونو انسانان وژل شوي او ژوبل شوي دي، په دومره ډيرو انسانانو کې به يو ميليون خلک ازادي غوښتونکي يا د حالتو سمونکي وو. دا نور ټوله داسي خلک وژل شوي دي خپل کور او اولادونه يې په پام کې وو، دا ظالم وحشي موږ ټوله وژني نه ښه ګوري او نه بد ګوري چې هر څوک يې مخته ورشي وار يې ورته سم شي دوی يې وژني. نو زموږ خاموشو خلک په ياد ولرئ چې دا کيسه او ددې اور لمبې به يوه ورځ هرومرو ستاسي تر کوره هم درځي. بيا چې د کور يا اولادونه سوځي او د مرستي لپاره څوک نه وي پاتې، نو نن لا د خپلو مبارزينو احترام وکړئ ورسره مرسته وکړئ هغوی وهڅوئ چې د ټولو انسانانو د خذمت لپــــــاره جوګه شي. له خپلي خاوري او خلکو ساتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ ارمان او ارمانونه!

ارمان نه ددې خاوري لومړی شهید دی او نه ددې خاوري وروستی شهید دی، ارمان نه د ارمانونو لومړی شهید دی او نه د ارمانونو وروستی شهید دی، هغه ارمانونو چي ارمان يې قرباني شو همداسي بې شمېره پښتانه يې قرباني شوي او لا ډېر شمېر پښتانه ددې لاري پيروان دي، او لاس په کار دي چي دا ارمانونو ترلاسه کړي. خو په يوه جابر او ظالم رياست کي ددې هر څه مخه نيول کيږي او د عدم تشدد ارمانجن چي خپل ارمان ترلاسه کړي دی او په شاوخوا کي نور انسانان يې ښه ژوند ولري، هـــغوی يې د تل لپاره د خپل ژوند څخه لاس په سر کوي. که څه هم پښتانه په دې سيمه کي له پيړيو پيړيو کړيږي او د هر ظلم په وړاندي قربانۍ ورکوي، خو بيا هم په قراره او خوشحاله ژوند نه لري، خو د تاريخ دا برخه چي زموږ د سترګو په وړاندي تېرېږي موږ يې قرباني يو او ورڅخه کړيږو دا تاريخ له هغه وخت راپيلېږي کله چي انګليسانو له اسيا خپلي پښې سپکي کړې او دلته يې د کپيټلزم د ګټو لپاره خپل ځايناست

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ کړ، د هغوی په مټ يې له شته خلکو څخه خوشحالي او سوکالي واخيستله .ځکه کپيټليسټان خپلي ګټي په ناخوالو کي لټوي. نو دې کپيټليسټانو د خپلو کرايي کارمندانو په لاس د پښتنو قتلي عام ته له هم هغې ورځي ملاتړلې ده. پښتانه ځکه تر پيشار لاندي ساتي چي له امو تر اټکه پوري ددې سيمي خلک سره يو دي او افغانستان يې خپله برخه بولي، دا لامل دې چي افغانستان يې په رسميت هم نه مني.

کله چي په 1945ز کال کي دوېيم نړيوال جنګ پای ومومه، له دې سره جوخت يوه بل جنګ دوام وکړ چي ورته سوړ جنګ يا ويلی شو. دا د دوو هېوادونو نه بلکې د دوو (Cold War) نظريو جنګ وو، مانا د کمونيزم او کپيټلزم جنګ وو. ددې جنګ په پای ته رسولو سره ډيری هېوادونه رامنځته شول دا هېوادونه په دې خاطر رامنځته شول چي کپيټلزم ته وده ورکړي، او کپيټلزم تر کمونيزم لا ډير پرمختګ وکړي. همدا ډول په نړۍ کي ډيرې کړ.ې وړ.ې کرښي راکښ کړل شوې په داسي وخت کي په 1947ز کال کي هندوستان خپلواکي واخيستله او انګلستان يې تر څنګ د اسلام په نوم يو بل هېواد د .پاکستان په نوم له راټولو شويو ټوټو څخه رامنځته کړ هندوستان خپله خپلواکي ټينګه وساتله او په خپل ځان يې تکيه وکړه د امريکا بلنه يې هيڅ وخت ونه منله، او د پاکستان الوتکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا په لور پرواز وکړ چي یو کپیټلزم هېواد وو، او دی د کپیټلزم لخوا رغول شوی وو .د روسیې بلنه یې ځکه رد کړه چي هغه د کمونیزم نظریې پلوي وو.

خو کله چي د پاکستان لومړی وزیر لیاقت علیخان له هغه ځایه راستون شو نو په غاړه کښې د "سرو زرو ځنځیر" له ځان سره راوړ چي د کپیټلستانو لخوا ورته ډالۍ شوی وو. دا ځنځیر یوازې ډالۍ نه وه بلکه پاکستان په به سیمه کي د کپیټلزم او په خاصه توګه د امریکا او انګلستان لپاره لوبیږي. دوی هم له هغې ورځي په ملا رسۍ راتاو کړه او ددې خلکو د خدمت لپاره لاس په کار شول. دا هېواد په لومړي ځل د دوی لپاره د ښه لوبغاړي په څېر هغه وخت رامخته شو کله چي روسیې په افغانستان تېری وکړ، نو دوی د امریکا د ګټو لپاره راودانګل، امریکا ته یې د ډالرو په بدل کي د افغانستان جنګ ته لمنه ووهله د مجاهدینو په نوم باندې یې یو شمېر کسان چي د کابل پوهنتون محصلین وو ولمسول له امریکا یې په بوجیو بوجیو ډالر تر لاسه کړل. هغوی غوښتل چي کمونیزم د همدې خلکو له لاري په ګونډو کړي، او بلخوا د ویتنام غچ هم دلته واخلي. خو په پاکستان کي اسلامي بنسټپالو د اسلام په نوم افغانستان لوټي لوټي کړ او دلته یې په شته پښتنو هم پیشار ورزیات کړ او همدې اسلامي بنسټپـــــالو د پښتنو ګونـــــدونه هم په کفري نظریاتو تورن کړل. پاکستان ددې اسلامي بنسټپالو په مټ د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښانفکرانو تر ځنګ دلته هم ډېر پښتان په ډول ډول نومونو شهیدان کړل.

ددې تر ځنګ یې د پښتونستان غوښتونکي هم ښه پوره وځپل چي بیا یې سر پورته کولو ته نه پرېښودل، او دې لړۍ ته یې تر اوسه ادمه ورکړې ده چي په لر او بر هېواد کي یې هر د مخي کس راته شهید کړی دی. له دې ځخه د ژغورلو یواځي او یواځي یوه لاره پاتي ده چي لر او بر افغانان به سره ټولیږي په یوه ټغر به سره کښېني او سره یوالی به جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارمان شهید چوک!

کله چي افغان کډوالو پښتونخوا ته رامخه کړه، د وخت واکمن هڅه وکړه چي دې کډوالو ته يو ډول ذهنيت ورکړي او بېرته يې د واکمن دولت سره په جنګ واچوي. دې خلکو ته يې د مبالغې له لاري ذهيت ورکړ چي تاسي د اسلام حقيقي بچيان ياست يوازي تاسي کولی شي چي په افغانستان کي له اسلامه دفاع وکړئ. ددې تر څنګ يې د اسلام په نوم ډير نمايشي کارونه هم تر سره کړل، غونډي يې وکړې، د جوماتونو ملايان يې وهڅول، په دېوالونه يې ورته اســـــلامي او عربي ليکل وکړل، مېلمستياوي يې ورته وکړې، له عربيانو سره يې کښېنول او تر دې حده چي د ښوونځيو نومونه يې لا هم ورته اســـــلامي او عربي کړل. د خلـــکو ذهنيت يې د ملي ارزښتونو، کلتور، تاريخ، جغرافيې او عصري ژوند څخه دې ته متــــــوجې کړ چي يوازي د جهاد په هکله درس ورښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږه. په اسلامي او عربي نومونو چې کومو ښوونځيو خپل فعاليتونه کول هغوی به دا ډول نومونه لرل.

حرا اکيډمي.

اصفه اکيډمي.

البدر ابتدايي ښوونځی.

الفلاح ابتدايي ښوونځی.

المعاذ ابتدايي ښوونځی.

السفوان چلډرن اکيډمي.

اقرا چلډرن اکيډمي.

اسلاميه ښوونځی.

قرطبه ابتدايي ښوونځی.

روضته الاطفال اکيډمي.

سينا ابتدايي ښوونځی.

العصر چلډرن اکيډمي او داسي نور ډېر نومونه.

نو پاکستان د اسلام په نوم په ډېر برياليتوب سره وکولای شو چې خلک وکاروي او د افغان حکومت په مقابل کي يې راپورته کړي. هغوی لومړی د افغان کډوالو مذهبي مشران وکارول ځکه چې د افغانانو يا د پښتنو زياته برخه بې تعليمه وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازنى كس ملا صيب وو چي پکښې تعليميافته به وو، او بله دا چي زموږ د اطرافو خلک پخوا څه کوې چي اوس هم ډېر ساده او په هر څه قناعت کوي، د يوڅو خوږو خبرو وروسته ستا لپاره هر څه کوي نو له دې امله تر ځان د مشر، سپينږيري او د ملا صيب ډير قدر او احترام کوي. د ملا صيب هره خبره ورته د څښتن تعالاﷻ او پيغمبرﷺ خبره ښکاري تر دې حاله بې علمه دي چي د پنج ګنج کتاب څخه کوم بيت واوري هم وايي خداى پاکﷻ په پنج ګنج کي فرمايي.

پاکستان دې هر څه ته په کتو سره د اسلام په نوم خپلي ګټې په پام کي ونيولې، څلور لسيزي يې د افغانانو په وينو خپل وطن ته نجات ورکړ او ډير پوځي چارواکي يې ميليونران شول. ملايانو هم د افغانانو په وينو تويولو کي سپما ونکړه چي هر ډول لار جوړېدله د افغانانو په وينو کي يې ځيني کار واخيست.

همدا ډول پاکستان اوس هم په پښتنو سيمو کي لومړى له مذهبي مشرانو کار اخلي هغه کاروي بيا د هغوى په مټ خپلي ګټي تر لاسه کوي، او دا مذهبي مشران له يوه پلو ددوى ملګري نه دي يا ددوى د ګټو لپاره کار نه کوي يوڅو مشخص کسان لري چي د هغوى په مټ کار کوي، او د هغوى په مټ نور مذهبي مشران ګوابنل کيږي او ددوى کار لپاره اړيستل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لړۍ يې اوس د پښتنو له نوي راټوکيدلي تحريک "پښتون ژغورني غورځنګ" سره هم پيل کړې ده. لومړی خو تر ډير حده مذهبي مشران خاموشه دي هيڅ ددې تحريک له غوښتنو سره اتفاق نه ښيي. او ځينې بيا د پوځ او نور ادارو په خوله دا تحريک په ډول ډول نومونه بدنامه وي، مشران يې د نورو هېوادونو په استخباراتي کړييو تورنوي. لکه مولانا محمد خان شېـــــراني چي دا تحريک د يوه نوي جنګ پيل وباله. د ږوب ملا! ملا الله داد بيا په کفر تورن کوو. او پيرانو د کورنۍ يوه غړي د هندوستان طرافدار وښود او د مخنيوي لپاره يې خپلو مريدانو ته امر وکړ .همداسي نور ډير ملايان شته په تحريک پسې بد واي .او پنجابي ملايان خو يې له لومړۍ ورځي خلاف دي د پرديو استخباراتو ايجنټان يې ښيي.

خو!

په اصل کي دا تحريک د اسيـــــــا په لويه وچه کي د يوه لوی قوم "پښتون" د ژغورلو لپاره راوچت شوی دی، چي له نيمي پيړۍ زيات عمر کيږي چي د پنجاب ظلمونه او وحشتونه په ځان زغمي. نه يې کومه غوښتنه د اسلام خلاف ده، نه يې کوم قدم د اسلام خلاف اخستی دی، نه يې د اسلام خلاف خبره کړې ده، او د اسلام په رڼا کي د يوه زوربدلي قوم لپاره د حق غوښتونکي دي. بيا هم هغه خلک چي د اسلام په نوم شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټي په پام کي لري هغه په دې تحریک پسې بدرد وایي. دا هم هغه خلک دي چي ددوی د سترګو په وړاندي یې **ارمان لوڼی** د لوی بازار په منځ کي ورته شهید کړ دوی هیڅ هم ونه ویل نه یې کومه وینا وکړه، نه یې غندنه وکړه او نه یې کوم بل څه وویل چي ولي داسي ظلم کیږي، سترګي یې پټي کړې او خاموشه شول. ددې هر څه تر څنګ اوس د پوځي ادارو په خوله راولاړیږي د لورالائي د لوی جومات یوه پنجابي ملا قاري ممتاز او د سیمي نور چارواکي چي له پوځي ادارو سرچینه اخلي د "ارمان لوڼي شهید چوک" په ختم نبوت چوک سره رغوي. داسي نه ده چي ددې نامه لـــــــپاره نور ځایونه نشته، بلکې ډیر ځایونه شته چي دوی یې د "ختم نبوت" نامه لپاره غوره کړي. په دې تر هر څه له مخې موږ ورسره موافق یو، او ورسره مرسته کوو چي په لورالائي کي نه بلکې په هر ښار کي دي په دې نامه چوک ورغول شي. خو دا چوک د ارمان په نوم دی، نو ملا ممتاز او چارواکي دي ددې په ځای کوم بل ځای انتخاب کړي، همدغه لویه جامعه چي ملا ممتاز یې ملا دی دغه دي د "ختم نبوت" په نامه کړي، ددې تر څنګ نور چوکونه هم شته لکه سپلائي چوک یا کوم بل چوک دي د"ختم نبوت" په نوم کړي. خو ددې چوک تر شا د پوځي ادارو لاس دی نه غواړي چي د پښتنو د اتلانو یاد پاتې شي نو له دې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوځل بيا غواړي له مذهبي خلکو کار واخلي او خپلو شومو ګټو ته ځان ورسوي.

دا ښه وخت دی چي ځانونه وپوهوو د اسلام په نوم د خلکو د ګټو قرباني نه شو، اسلام ته به د اسلام په رڼا کي خذمت کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانه څه ډول مبارزې ته اړتیا لري!

له پښتنو سره د پنجاب اوسنيو کړنو ته په کتو سره داسي مالوميږي، چي پنجابي پوځ غواړي پښتانه دې ته اړ باسي څو وسلې ته لاس کړي او ددوی په وړاندي وجنګيږي.

که داسي وشول نو پنجابيان خپل مرام ته په ډيري اسانۍ سره رسېدلی شي، ځکه دوی داسي کارونه له بلوڅانو ورونو سره وکول او هغه يې دې ته اړ ايستل څو وسلې ته لاس کړې، هغوی ډير ظلمونه او وحشتونه وزغمل خو بلاخر اړ شول د پنجابي پوځ په وړاندي راپاڅـــېدل او وسلوالي مبارزې ته يې دوام ورکړ.

پنجابي پوځ له دې فرصت څخه ګټه پورته کړه، بلوڅان ورونه يې د ترهګرو په نوم نړۍ ته ورو پېژندل، او د هغوی په وژلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ورکولو پسې يې راواخستله چي تر ننه همـــــدا لړۍ دوام لري. نو دوی اوس غواړي همدا کيسه له پښتنو سره هم تکرار کړي. پښتانه يو ډول نه يو ډول وسلوالي مبـــــــارزي ته اړ کړي. که داسي وشول بيا نو ددوی خوښه چي څه ډول دي وژني، چيري دي وژني، په څه دي وژني، ولي دي وژني هر څه چي يې زړه وغواړي هم هغه به درسره کوي. تا به د چاپلوسو رسنيو، ناحقه مبالغو، او ستا په شاوخوا کي د شته چاپلوسانو په مټ دومره بې وسه او بې کسه کړي چي جنازې کولو ته به دي هم خلک په ډېر لوی زړه حاضرېږي، حق غوښتل خو به دي د خوب ليدل وي.

نو تر هر څه له مخه به له هغو ټولو لارو کار اخلو چي هغه موږ ته سوکالي راکولی شي مطلب مي سوليز لاريونونه دي، له دې لاري به نړيوالو ته دا ښيو چي موږ ترهګر نه يو حق غوښتونکي يو لوی ترهګر همدا پنجابي پوځيان دي. چي دا خبره نړيوالو ته وښيو لومړی ممکن نړيوال دې ستونزي ته حال لاره ومومي، که هغوی هم څه ونکړل، نو خبره به موږ له پخوا لا ددوی غوږونو ته رسولې وي چي موږ خپل حق په سوليز ډول غوښت او دوی دې ته اړ ايستلو چي موږ خپل حق د وسلې په مټ ورڅخه واخلو، هغه وخت به بيا په مېړانه راميدان ته شو. او داسي هم نه چي له کلونه کلونو وژل کيږو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور. وایو چي دا قاتل به نن راباندې رحم وکړي سبا یا بل سبا به راباندې رحم وکړې، خو هیڅ هم نه!

له کله چي انګلیسانو خپله مرداړه پالیسي تور پنجاب ته پرېښودله، او هغوی په لومړیو د بابړې لویه پېښه وکړه چي له زرو زیات پښتانه ورونه پکښې شهیدان او ژوبل شول، له هم هغـــــې ورځي مور. په وارو وارو او په ډول ډول وژل شوي یو، خو مور. بیا هم په دې فکر یو، چي ګوندي د انګلیس پاته شونی به په لاره شي او رحم به وکړي.

خو!

اوس خبره له رحمه او حوصلې تېره ده. یوازي خپل ږ.غ د نړیوالو تر غوږ.ونو رسول دي له هغه وروسته پرېکړه کول دي چي څه کوو او په څه ډول یې کوو.

(پای)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارمان ستا پر حق شهید شو!

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**